# ګڼونپوهنه

( د اعداد تیوري)

Nummbertheory

$$k = n \ (\mathrm{mod}\ m)$$

smakhan1946@gmail.com

Ketabton.com

لیکوىکی: جورج کوننبرویر

ژباړی: ډاکتر ماخان (میرزي) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلوي څښتن په نامه

په دې هیله، چې په دې لیکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

## کتاب پیژندنه


د کتاب نوم: ګیونیپوهنه

لیکونکی: پرفیسور جورج ګوتنبرونر

ژباړی : ډاکتر ماخان،، میرې،، شینواری

د خپریدو لړی ..........................

خپرندوی: د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ کال ۲۰۱۲



د ژباړي بریښنا پته : smakhan1946@gmail.com


## چاپ چارې

چاپ ته یې د هر چمتو هیوادوال مرسته په سترګو منل کیږي

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو مو ژبه او شمیرپوهنه پرې ساده ده

د ژباړې مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نیولیک

د ژباړي سریزه
د لیکونکي سریزه
- د... خویونه ۱
د.. د ا کسیومونو سیستم ۱
د طبیعي اعدادو ځای انځورونه ۸
-۲- په ... وېشوړوالی ۱۴
پروېشوني ( مقسوم علیه) 3۱
د اویکلید یا اقلیدس له مخې ټاکل ۱۸
خورا غټ ګډ پروېشونی ۲۸
۳ - لومړني ګڼونه ۳۲
نور خویونه ۳۸
( د خ غ ګ او خ ک ګ زیاتځلي - - ۴۲
**۴ ـ کونګروانځ** **۵۱**
د کونګروانځ سره شمېرنه ۵۱
د پروېشنوړوالي قوانین ۵۸
**پاتې ټولګي** **۶۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاتې ټولګې کړی یا ـــ رینګ ۶۷

**۵ - الجبري کونګروانڅ ۷۵**

د کرښیزو کونګروانڅو حلوړوالی ۷۵

سیمولتان کونګروانت ۸۱

الجبري کونګروانت ۸۷

۶ -د حلونوو عملي شمېرنه ۸۹

د الجبري کونګرواینڅو دحلونو ګڼون یا تعداد ۹۸

- لومړني پاتې ټولکي کروپونه ۱۰۱

د أبل ګروپ ۱۰۱

د $\varphi(m)$ شمېرنې ته ۱۰۳

د اویلر جمله ۱۱۰

د $(\mathbb{Z}_m^*,\cdot)$ جوړښت ۱۱۶

د حقیقیي اعدادو g ـــادیکي ودیزیینه ۱۲۶

ټولزه ودیزیینه ۱۲۶

کله $\alpha \in \mathbb{Q}^+$ دوه g ـــادیکي انځورونه لري؟ ۱۳۳

کوم $\alpha \in \mathbb{Q}^+$ یوه پای g ـــادیکي انځورونه لري؟ ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریودیکي وده ۱۳۸

ځانګړی حالت: سوچه پریودیکي وده ۱۴۵

ټولیز حالت: نه سوچه – پریودیکي وده ۱۴۹

**۸ - N-م توان ۱۵۰**

په ځانګړي حالت بیرته اړول ۱۵۰

د... د حل لپاره تګلار ۱۵۳

د حل ساده متودونه ۱۵۸

ځانګړی حالت ۱۵۸

د $x^n \equiv a(2^k), k \geq 3$ لپاره د حل متودونه ۱۶۵

څلوریز پاتې( که غواړئ: مربع باقیمانده) ۱۶۹

ځانګړی حالت ۱۶۹

څلوریز پاتې( که غواړئ: مربع باقیمانده ۱۷۴

ځانګړی حالت ۱۷۴

لژندر-سومبول ۱۷۹

ساده خویونه: ۱۸۰

د ګاوس لیما یا جملګۍ ۱۸۶

د Legendre-Symbo لپاره د څلورۍ – یا ... ۱۹۶

جاکوبي سومبول ۲۰۱

ځانګړي حالتونه ۲۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړي سريزه

ګرانو لوستونکو!

د ليکونکي سريزه راوړل شوې هلته اړين څه شته دی، خو زه غواړم دومره يادونه وکړم، چې ګڼونپوهنه يا د اعادو تيوري يو له بنسټيزو درسونو څخه ګڼل کيږي، چې ما يې ډېر وخت د يوې داسې ليکنې لټه کوله. ښه دی، دا مې يو ډېرښه سکريپټ پيدا کړ او بيا دا د ويانا د پوهنتون هم دی، چې ما هلته درس ويلی. دا په ګوته کوم، چې د ويانا پوهنتون کې ډېر ښه او مشهور ګڼونپوهان تير شوي او لا هم شته.

دا ما له دې امله هم اړينه وبلله، چې زما په اند دا درس د افغانستان پوهنتونونو کې نه شته. هيله ده، چې دابه د ګرانو هيوادوالوپه ګټه وخوري.

په دې هيله هم،چې ګڼونپوهنه به دپه درسي پروګرام کې خوندي شي.

ستاسو ماخان

## سريزه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه وخت کې ګاوس ګڼونپوهنه یا د عددونو تیوري د ماتماتیک د ملکې(پاچاګۍ) په نوم ونوموله. د دې لپاره چې د شمیرپوهنې په دې ساحې ښه وپوهیږو، مختلفې پیلونې – همداسې مخ ته تللې لکچرونه وړاندې کیږي.

ګڼونتیوري د ډېرو داسې ساده بریښیدونکو پرابلمونو، ښوونه او یا د هغوې تضاد تر څیړنې لاندې نیسي، چې تر نن ورځې پورې دا پاتې دي یا نه دي شوی، او د پوره پام کونې له مخې خورا سخت مخ ته لیدل شوي دي. د وخت په تیریدو سره دې د ګڼونپوهنې دې خویونو یو د شمیر پوهنې تیوري ودې خورا ستر د تغذیې ورشو موندله، چې د خپل دسڅیلین دپولې زیاته ور اخواته رسیدونکې ده. په دې اړوند دې دا هم په ګوته شوې وي، چې د ساده پرابلمونو یو ډکی(حجم) شتون لري، د کومې له مخې چې هر څوک په خوښه ازمایلی شي([ Guy94] وګورئ).

، د ګڼونتیوری یوه غټه معنا ، چې د دې ساحې یا ورشو د یوه قهرمان څخه نږدې ۳۰۰ نا روښانه کلونو وروسته حل شوې: د فرمات Fermat ګومان چې په ښه توګه د ، ،،لوی فرمات Der große Fermat ،،تر نامه لاندې نوم یا شهرت لري.

که څه هم عملي کارونه یا استعمال یې د ۱۹۹۴ د اندریو ا و ریچارد تیلور جملې څخه په سختۍ لیدل کیږي، بیاهم ګڼونپوهنه سیده یا په همدې وخت کې په ماډرن شمیرپوهنه کې غوره رول لري. په دې اړونده سړی فقط د بیلګې په توګه کریپتوګرافي ته خپل پام اړوي، چیرته چې د خبرونو د کود (شفر)څخه وازونه ، د نورو تر څنګ خورا لوی لومړنیو ګڼونو ته اړتیا پیښیږي.

په ۶/۳ برخه کې لنډ دې پرابلم ته پام شوی دی، دګڼونپوهنې د بنسټیز د استعمالوړوالي دې دلته اانتظار نه کیږي، ځکه چې بنسټیزه تیوري، نه مګر د هغې استعمال د دې سکریپت په ککره کې ځای لري. علاقمند لوستونکی دې په دې هکله نورو د ګڼونتیوري زیاتو کتابونو لوستلو ته راوبلل شي. دا مخ ته پرته لیکنه د ویانا پوهنتو کې د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ ژمي سمستر لپاره لکل شوې. بنسټیزې پوهنې یې له وړاندې – یا مخنیونه نه ده، مګر ښه خو ده، چې د الجبري جوړښت او کلیمو سره بلدتیا شتون ولري. لکچر پروفیسر میچ او اړونده تمرینونه یې ډاکتر شویزنګایر مخ ته بیول. دا سکریپت د لکچر په لیکنو ولاړ دی او د تکمیل ادعا نه کوي.

جورج ګوتنبرونر اپریل ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ خویونه

د $\mathbb{Z}$ لپاره اکسیومسیستمونه Axiomensystemen

د $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ لپاره یو ممکنه اکسیوم دی:

لومړی: اکسیوم،، + ،، پوره کوي : $a,b\in\mathbb{Z}\Rightarrow a+b\in\mathbb{Z}$ او :

الف::

اسوشیاتیو قانو $a+(b+c)=(a+b)+c\ \forall a,b,c\in\mathbb{Z}$

ب-

$\exists\, 0\in\mathbb{Z}\ (,,Null``):a+0=0+a=a\ \forall a\in\mathbb{Z}$ ( بې اغیزه یا ناپیلی توکی)

پ –

$\forall a\in\mathbb{Z}\exists -a\in\mathbb{Z}:a+(-a)=(-a)+a=0$ ( په ښت یا معکوس توکی)

ت -
$a+b=b+a\ \forall a,b\in\mathbb{Z}$ ( کموتاتیو یا د بدلېدو قانون)

دویم : ضرب ،، . ،، پوره کوي $a,b\in\mathbb{Z}\Rightarrow a\cdot b^1\in\mathbb{Z}$ او:

الف-

$a\cdot(b\cdot c)=(a\cdot b)\cdot c\ \forall a,b,c\in\mathbb{Z}$(اسوشیاتیو قانون)

ب –

(c) ketabton.com: The Digital Library



$\exists\, 1 \in \mathbb{Z}, 1 \neq 0, („Eins“)$ د $1 \cdot a = a \cdot 1 = a \ \forall a \in \mathbb{Z}$ ( بي اغيزه يا ناپيلی توکی)

پ-

$a \cdot b = b \cdot a \ \forall a, b \in \mathbb{Z}$ ( کموتاتيو يا د بدلېدو قانون)

ت-

$a \cdot (b + c) = (a \cdot b) + (a \cdot c) \ \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$ )ديستريبوتيو قانون)

دريم: نسبت و نظم „$\leq$`` ته باور لري:

الف ـ $a \leq a \ \forall a \in \mathbb{Z}$ رفلکسيويي

ب . $a \leq b, b \leq a \Rightarrow a = b \ \forall a, b \in \mathbb{Z}$ انتيسيومتري.

پ ـ $a \leq b, b \leq c \Rightarrow a \leq c \ \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$ ترانزيتيو.

ب ـ $\forall a, b \in \mathbb{Z} : a = b \vee a \leq b \vee b \leq a$

ټ ـ $a \leq b, c \in \mathbb{Z}$ په خوبنه $\Rightarrow a + c \leq b + c \ \forall a, b \in \mathbb{Z}$

ث ـ $a \leq b, c \in \mathbb{Z}, c > 0 \Rightarrow a \cdot c \leq b \cdot c \ \forall a, b \in \mathbb{Z}$

څلوم- برخدېری $\mathbb{N} = \{a \in \mathbb{Z} \mid a > 0\}$ پوره منظمه ده، دا په دې معنا چې د $\mathbb{N}$ هره ناتش برخدېرۍ A کوچنی توکی لري. ( نو: $A \neq \emptyset \Rightarrow \exists\, a_0 \in A : a_0 \leq a, \ \forall a \in A$ )

يادونه ۱.۱.۱ د جمعې يا زياتون د څلور خويونو لپاره $(\mathbb{Z}, +)$ يو ابل گروپ جوړوي، د ضرب د خويونو سره په گډه د $(\mathbb{Z}, +, \cdot)$ سره په اړوند د يوه

کموتاتيو رينگ څخه غږيږو، د يوې(واحد) توکي سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکسیومونو $3a-3d$ سره په ګډه $(\mathbb{Z},\leq)$ یو توتالمنظمه ډېرۍ(،،ځنځیر،،) جوړوي.. که ټول اکسیومونه $1-3$ باور ولري، نو دا بی یو منظم رینګ(کړی) دی(بېلګه: $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ )

یادونه ۱ . ۱ . ۲ سرې کړی شي وښايي: $(R,\oplus,\odot,\preceq)$ یو په خوښه الجبري جوړښت دی، هغه چې د ا پورته له ۱ تر ۴ اکسیومونه پوره کوي، نو دا بیا په روښانه توګه [1.1] برابر دی له $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ سره.

ترې لاس ته راوړنه: په $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ کې باور لري:

$$a\leq b, c<0 \Rightarrow bc\leq ac. \quad (1.1)$$

*ښوونه:*

$$c<0 \quad \overset{3e}{\Rightarrow} \quad c+(-c)<0+(-c)\overset{1b}{=}-c\Rightarrow 0<-c. \quad (1.2)$$

$$a\leq b \quad \overset{3f}{\Rightarrow} \quad a\cdot(-c)\leq b\cdot(-c)\overset{UE}{\Rightarrow}-(ac)\leq-(bc)\overset{3e}{\Rightarrow} \quad (1.3)$$

$$\overset{3e}{\Rightarrow} \quad -(ac)+(bc)\leq-(bc)+(bc)=0\overset{3e}{\Rightarrow} \quad (1.4)$$

$$\overset{3e}{\Rightarrow} \quad (ac)-(ac)+(bc)\leq(ac)+0\Rightarrow \quad (1.5)$$

$$\Rightarrow \quad bc\leq ac. \quad (1.6)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمله ګی۱ . ۱ . ۴ له $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ څخه د $\leq$ لپاره باور لري:

$$a \leq b \Leftrightarrow a=b \ \vee \ b=a+n \ (n\in\mathbb{N}). \qquad (1.7)$$

ښوونه: $(\Leftarrow)$

$$b=a+n, n\in\mathbb{N} \Rightarrow b-a=n \Rightarrow b-a>0 \Rightarrow b>a \Rightarrow a<b. \qquad (1.8)$$

$(\Rightarrow)$

$$a\leq b \overset{3e}{\Rightarrow} a+(-a)\leq b+(-a) \Rightarrow 0\leq b-a \qquad (1.9)$$

$$\Rightarrow b-a=0 \vee b-a>0 \Rightarrow b=a \vee b-a\in\mathbb{N} \qquad (1.10)$$

$$\Rightarrow n:=b-a \Rightarrow b=a+n \quad \text{د } n\in\mathbb{N}. \text{ سره} \qquad (1.11)$$

لاس ته راوړنه۱ . ۱ . ۵ : $\cdots -2<-1<0<1<2 \ \cdots$

جمله ګی ۱ . ۱ . ۶ : د$\mathbb{N}$ لپاره د اندکشن اصول باور لري، دا په دې معنا چې $\exists\, \emptyset \neq A\subseteq\mathbb{N}$ د لاندې سره:

1. $1\in A$ ,
2. $n\in A \Rightarrow n+1\in A$ ,

نو باور لري $A=\mathbb{N}$ .

ښوونه:وي دې $\emptyset\neq A\subseteq\mathbb{N}, A$ په خوښهد دواړو خویونو سره ورکړ شوې، ښایو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$A = \mathbb{N}$ ( د $(\mathbb{Z}, +, \cdot, \leq)$ اکسیومونو په مرسته)

نیسو $A \neq \mathbb{N}$ . راوړو

$$T := \mathbb{N} \setminus A = \{x \in \mathbb{N} \mid x \notin A\}, \qquad (1.12)$$

له دې امله $T \neq \emptyset$ . د اکسیم4 له مخې $T$ یو کوچنی توکی $n_0 \in T$ لري.. دی $n_0 \neq 1$ ، ځکه چې د $A$ خوی1 له مخې:

$$1 \notin T = \mathbb{N} \setminus A. \Rightarrow 1 \in A, \qquad (1.13)$$

د1.1.4 پسې $n_0 > 1$ لرو ، داسې چې د3e پسې باور لري:

$$n_0 - 1 \in \mathbb{N} \text{ نو } n_0 - 1 > 1 - 1 = 0, \quad (1.14)$$

( د $\mathbb{N}$ تعریف وګورئ) د

$$n_0 - 1 < n_0 \ (n_0 = (n_0 - 1) + 1 \overset{1.1.4}{\Rightarrow} n_0 - 1 < n_0), \quad (1.15)$$

له امله او داچې $n_0 \in T$ د $T$ کوچنی توکی دی، لرو:

$$n_0 - 1 \notin T. \qquad (1.16)$$

له دې امله $n_0 - 1 \in A$ باور لري ( پام: $n_0 - 1 \in \mathbb{N}$ ). له دې سره د $A$ د 2 خوي له امله ، داسې چې هم $(n_0 - 1) + 1 \in A$ د ی، دا په دې معناچې $n_0 \in A$ . تضاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جملګی۱ . ۱ . ۷: ( د پاتې سره وېش) که $a \in \mathbb{Z}, b \in \mathbb{N}$ وي، نو ګڼونه یا عددونه ( یواځني تاکلي) $q, r \in \mathbb{Z}$ شتون لري د $a = bq + r$ سره د $0 \leq r < b$ سره.

ښوونه: وي دې

$$M := \{n \in \mathbb{N}_0 \mid n = a - bx \quad x \in \mathbb{Z}\}. \qquad (1.17)$$

وښایه: $M \neq \emptyset$

که $a \geq 0$ وي ، نو دی

$$n := a - b \cdot 0 = a \in \mathbb{N}_0, \qquad (1.18)$$

پس $n \in M$ ، که $a < 0$ وی ، نو $0 < -a$ او له $a \leq b$ څخه د 3f له مخې لاس ته راځي

$$1 \cdot (-a) \leq b \cdot (-a), \qquad (1.19)$$

دا په دې معنا ، چې

$$-a \leq -(ba) \overset{3g}{\Rightarrow} a + (-a) \leq a + (-ba), \quad (1.20)$$

دا په دې معنا، چې $0 \leq a - b \cdot a$ ، له دې سره $a - ba \in \mathbb{N}_0$ او $n = a - ba \in M$ دی(د 3d له مخې بل امکانات نه شته).

د له مخې دا ډېری یو کوچنی توکی $r$ لري $r$ : ، داپه دې معنا، چې $r \in \mathbb{N}_0$ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$r = a - b \cdot x_0 \text{ für ein } x_0 \in \mathbb{Z}; \qquad (1.21)$$

له دې سره لاس ته راځي

$$a = b \cdot x_0 + r, \text{ چېرته چې } 0 \leq r. \qquad (1.22)$$

نور غواړو وښايو: $r < b$

نیسو $r \geq b$ ([3d](#))، د [1.1.4](#) پسې $x_0 < x_0 + 1$ باور لري، له دې سره $-(x_0+1) < -x_0$، د $b > 0$ له امله د[3f](#) پسې لرو:

$$-(x_0+1)b < -x_0 b \overset{3e}{\Rightarrow} a - (x_0+1)b < a - x_0 b = r; \qquad (1.23)$$

باور لري

$$a = bx_0 + r \overset{r<b}{\leq} bx_0 + b = b(x_0+1), \qquad (1.24)$$

نو لاس ته راځي: $a - b(x_0+1) \leq 0$، له دې سره

$$a - (x_0+1)b \in M. \qquad (1.25)$$

تضاد، ځکه چې $r$ په $M$ کې کوچنی ګڼ یا عدد دی.

بېلګه 1.1.8 : $a = -42, b = 32$

اجازه نه لري، ځکه چې $r = -10 < 0$ دی. $-42 = 32 \cdot (-1) + (-10)$

د پاتې سره وېشدی، ځکه چې $0 \leq r = 22 < b = 32$ دی. $-42 = 32 \cdot (-2) + 22$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښني یادونه:

...غوره [1.1]

سړی هم وایي ،،تر ایزومورفي پورې،، .

## د طبیعي ګڼونو یا –اعدادو ځای انځورونه

لکه $273 = 2 \cdot 10^2 + 7 \cdot 10^1 + 3 \cdot 10^0$ ، له دې سره

$$0 \leq 2 < 10, 0 \leq 7 < 10, 0 \leq 3 < 10$$

جملګی1.2.1 : وي دې $a \in \mathbb{N}, b \in \mathbb{N}, \ b \geq 2$ ، نو یواځنی ټاکلی ګڼ یا عدد؛ $n \geq 0, a_i \in \mathbb{N}_0$ شتونلری د لاندې سره:

$$a = a_n b^n + a_{n-1} b^{n-1} + \cdots + a_1 b + a_0, \qquad (1.26)$$

د کوم سره چې $a_n > 0, \ 0 \leq a_i < b \ (i = 1, \ldots, n)$

ښوونه:

شتون :

که $a < b$ وي، نو $a = a_0$ ، د کوم سره چې $n = 0, a_0 = a < b$ راکوي.

وي دې $a \geq b$ . د وېش له امله د پاتې سره راکوي:

$$a = bq_1 + a_0, 0 \leq a_0 < b, \qquad (1.27)$$

$$q_1 = bq_2 + a_1, 0 \leq a_1 < b, \qquad (1.28)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$\vdots$ (1.29)

$$q_i = bq_{i+1} + a_i, 0 \leq a_i < b. \quad (1.30)$$

وښایه : $q_i \geq 0 \ (i = 1, 2, \ldots)$ د پورا ایندکشن له لارې:

$i = 1$ :

نیسو $q_1 < 0$ ، نو باور لري

$$a = bq_1 + a_0 < b \cdot 0 + a_0 = a_0 < b, \quad (1.31)$$

- تضاد یا مخامخوالی!

$i \to i + 1$ :

نیسو $q_{i+1} < 0 \Rightarrow q_{i+1} \leq -1$ ، داسې چې

$$q_{i+1} + 1 \leq -1 + 1 = 0, \quad (1.32)$$

نو

$$q_i = bq_{i+1} + a_i < bq_{i+1} + b = b(q_{i+1} + 1) \leq b \cdot 0 = 0 \quad (1.33)$$

- تضاد!

باور لري: $q_i \geq q_{i+1} \ (i = 1, 2, \ldots)$ . ځکه چې:

$$q_i = bq_{i+1} + a_i \geq bq_{i+1} \overset{b \geq 2, q_{i+1} \geq 0}{\geq} 2q_{i+1} \geq q_{i+1}. \quad (1.34)$$

له دې سره $q_1 \geq q_2 \geq \cdots$ دی $q_{i+1} > 0$ ، نو $q_i > q_{i+1}$ دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرۍ یا سټ $M := \{q_i \mid q_i > 0\}$ لپاره باور لري، $M \neq \emptyset$ ، نو یو کوچنی توکی $q_n \in M$ شتون لري. پسې لاس ته راځی $q_{n+1} = 0$ . له دې سره :

$$q_n = bq_{n+1} + a_n = a_n, \quad (1.35)$$

دابه دې معنا چې $a_n = q_n > 0$ ، د په ځېږ اینوونې له لارې لاس ته راوړو:

$$\begin{aligned} a &= bq_1 + a_0 = b(bq_2 + a_1) + a_0 = q_2b^2 + ba_1b - a_0 = \cdots \\ &= q_nb^n + a_{n-1}b^{n-1} + \cdots + a_1b + a_0 \ (q_n = a_n > 0). \end{aligned}$$

یواځیوالی:

نیسو، چې دوه مختلفې انځورونې شتون لري. وي دې

$$a = a_nb^n + \cdots + a_1b + a_0 = \bar{a}_mb^m + \bar{a}_{m-1}b^{m-1} + \cdots + \bar{a}_1b + \bar{a}_0, \quad (1.36)$$

د $n \geq m,\ a_n > 0,\ 0 \leq a_i < b\ \forall i,\ \bar{a}_m > 0,\ 0 \leq \bar{a}_j < b\ \forall j$ سره .

له دې امله: $a_0 - \bar{a}_0 = bq$ د یوه $q \in \mathbb{Z}$ لپاره ، د $0 \leq \bar{a}_0 < b$ له امله باور لري

$$-b < -\bar{a}_0 \leq 0 \overset{0 \leq a_0 < b}{\Longrightarrow} -b < a_0 - \bar{a}_0 < b. \quad (1.37)$$

که $q > 0$ وي، نو $q \geq 1$ دی او د $b > 0 : a_0 - \bar{a}_0 = bq \geq b \cdot 1 = b$ له امله ، تضاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $q < 0$ وي، نو $q \leq -1$ دی او د
$b > 0 : a_0 - \bar{a}_0 = bq \leq (-1)b = -b$ له امله تضاد .

نو باید $q = 0$ باور ولري، له دې سره $a_0 - \bar{a}_0 = b \cdot 0 = 0$ او $a_0 = \bar{a}_0$ . له دې امله باور لري:

$$a_n b^n + \cdots + a_1 b = \bar{a}_m b^m + \cdots + \bar{a}_1 b; \qquad (1.38)$$

د $b$ سره لنډوني له لارې لاس ته راځي:

$$a_n b^{n-1} + \cdots + a_2 b + a_1 = \bar{a}_m b^{m-1} + \cdots + \bar{a}_2 b + \bar{a}_1. \; (1.39)$$

په ورته توګه لاس ته راځي: $a_1 = \bar{a}_1, a_2 = \bar{a}_2, \cdots, a_m = \bar{a}_m$ ، داسې چې په تولیزه توګه راکوي:

$$a_n b^{n-(m+1)} + \cdots + a_{m+1} = 0 \; (n \geq m) \qquad (1.40)$$

که $n > m$ وی له $a_n > 0, b > 0 \Rightarrow$ سره وی ، نو لاس ته ترې راځي: کینه لور له صفر لویه ده، تضاد.

له دې امله باید $n = m$ باور ولري، او $a_0 = \bar{a}_0, a_1 = \bar{a}_1, \ldots, a_m = \bar{a}_m.$ هم. □

پیژند (تعریف)1.2.2 : پورتنی د $a \in \mathbb{N}$ یواځنی انځورونه د$b \in \mathbb{N}, \; b \geq 2$ له لارې د $a$ ځای انځورونه بلل کیږي نسبت بنسټ $b$ ته، سومبولیک

| | |
|---|---|
| (1.41) | $a = (a_n, a_{n-1}, \ldots, a_1, a_0)_b.$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $b = 10$ وي، نو له دیکادیکي *dekadischen* یا لسمیزې انځوروني غږیږو، د $b = 2$ سره له بینار یا دوه ییزې انځوروني غږیږو. که $b > 0$ وي، نو سرې لیکي $A = 10, B = 11, \ldots$ ( د دې لپاره چې له $10$ خخه یې توپیر وکړای شو).

یادونه1.2.3 : د $a$ ځای انځورونه نسبت $b \geq 2$ ته کېدی شي د [1.2.1](#) د شووني په بنسټ و ټاکل شي[1.2] .

$$a = q_1 b + a_0 \quad 0 \leq a_0 < b \;\Rightarrow\; a_0 \text{ ټاکلی.} \qquad (1.42)$$

$$q_1 = q_2 b + a_1 \quad 0 \leq a_1 < b \;\Rightarrow\; a_1 \text{ ټاکلی.} \qquad (1.43)$$

q2=q3b+a2  0<u><</u>a2<b =>a2 ټاکلی : (1.44)

بېلګه1.2.4 : وي دې $a = 731,\ b = 10$ ، غوښته: د$a$ انځورونه ، $731 : 10 = 73 + 1$ نو

$$\left.\begin{array}{rcll} 731 & = & 73 \cdot 10 + 1 & 0 \leq 1 < 10 \;\Rightarrow a_0 = 1 \\ 73 & = & 7 \cdot 10 + 3 & 0 \leq 3 < 10 \;\Rightarrow a_1 = 3 \\ 7 & = & 0 \cdot 10 + 7 & 0 \leq 7 < 10 \;\Rightarrow a_2 = 7 \end{array}\right\} \Rightarrow 731 = (731)_{10}. \qquad (1.45)$$

بېلګه 1.2.5 : وي دې $a = 367, b = 2$ ، غوښتنه یا ثبوت: د$a$ بینار-یا دوه ییزه انځورونه $367 = 183 \cdot 2 + 1 = \cdots$ سرې داسې لیکي :

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 367 : 2 | 183 : 2 | 91 : 2 | 45 : 2 | 22 : 2 | 11 : 2 | 5 : 2 | 2 : 2 | 1 : 2 | 0 |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 0 | 1 | 1 | 0 | 1 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$\Rightarrow 367 = (101101111)_2$ .

ازماېښت:

$1 \cdot 2^0 + 1 \cdot 2^1 + 9 \cdot 2^2 + 1 \cdot 2^3 + 0 \cdot 2^4 + 1 \cdot 2^5 +$
$1 \cdot 2^6 + 0 \cdot 2^7 + 1 \cdot 2^8 = 367$ .

په $\mathbb{Z}$ کې تړونه Teilbarkeit in $\mathbb{Z}$

لاندې برخه( خورا غټ ګډ پروېشونی = $\mathrm{ggT}$ )

- پروېشوني او $\mathrm{ggT}(a,b)$ (مقسوم علیه او ) یا

د اوکلید له مخې د $\mathrm{ggT}$ تاکنه

د

$a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

خورا غټ ګډ پروېشونی( بزرګترین مقسوم علیه مشترک)

Georg Gutenbrunner 2002-10-04

## پر وېشونی او خورا غټ ګډ پروېشونی $\mathrm{ggT}(a,b)$

پېژند(تعریف) 2.1.1 : وي دې $a \in \mathbb{Z}$ ، سرې وایي $b \in \mathbb{Z}$ $a$ وېشي، که د یوه $q \in \mathbb{Z}$ لپاره باور ولري $a = b \cdot q$ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سومبولیک : $b \mid a$ ، $b$ د $a$ پروېشوني بلل کیږي، $q$ د $b$ پوره کېدونکې یا کمپلمنتار پروېښوني بلل کیږي. که $b$ د $a$ پروېشوني (مقسوم علیه) نه وي، نو لیکو $b \nmid a$ .

د1 پروېشوني د $\mathbb{Z}$ یوونونه یا واحدونه بلکیږي( دا فقط $\{1, -1\}$ دي ).

یادونه 2.1.2 : هر ګڼ یا عدد $a \in \mathbb{Z}$ پروېشوني $1, -1, a, -a$ لري، داسې په نامه ساده( نا اصلي) پروېشوني. که نور پروېشوني شتون ولري، نو دا اصلي پروېشوني بلل کیږي.

لېما جمله ګوتې 2.1.3:

1. $b \mid a \Rightarrow b \cdot c \mid a \cdot c \;\forall c \in \mathbb{Z}$ .
2. $bc \mid ac, c \neq 0 \Rightarrow b \mid a$ .
3. $a \mid b, b \mid c \Rightarrow a \mid c$ .
4. $a \mid b, b \neq 0 \Rightarrow |a| \leq |b|$ .
5. $a \mid b, b \mid a \Rightarrow a = \pm b$ (also)نو $|a| = |b|$ .)
6. که $a_1, \ldots, a_n, b \in \mathbb{Z}$ وي، د $b \mid a_1, \ldots, b \mid a_n$ سره، نو باور لري $\forall c_1, \ldots, c_n \in \mathbb{Z}$ :

$$b \,\Bigg|\, \sum_{i=1}^{n} c_i a_i \; . \qquad (2.1)$$

ښونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ad 4

د $a \mid b = a \cdot q$ لپاره $= |a| \cdot |q|, q \neq 0\ q \in \mathbb{Z} \Rightarrow |b|$ پرته له دې, $b = 0$ ,

نو $|q| \geq 1$ او $|b| = |a| \cdot |q| \geq |a|$ ( $|a|$ هم $> 0$ پرته له دې, $b = 0$ ).

ad 5

$a \mid b \Rightarrow b = aq, b \mid a \Rightarrow a = br$
$\Rightarrow$ Ist $a = 0$,

نو له دې$b = 0$ لاس ته راځي. که $b = 0$ وي، نو$a = 0$ هم . که $a$ او $b$ د صفر سره برابر نه وي:

$|a| \leq |b|$ او $|b| \leq |a|$ ، له دې سره $|a| = |b|$ دی، داپه دې معناچې $a = \pm b$ دی .

ad 6

$a_1 = bq_1, \ldots, a_n = bq_n \ (q_i \in \mathbb{Z})$

$$\Rightarrow \sum_{i=1}^{n} a_i c_i = \sum_{i=1}^{n} (bq_i) c_i = b \underbrace{\sum_{i=1}^{n} q_i c_i}_{\in \mathbb{Z}} \Rightarrow b \Big| \sum_{i=1}^{n} a_i c_i \ \forall c_i \in \mathbb{Z}. \quad (2.2)$$

لاس ته راوړنه2.1.4 : هر $a \in \mathbb{Z}, a \neq 0$ ، پای ډېرې پروېشوني $b$ لري، ځکه چې د(4) 2.1.3 پسي باور لري: $|b| \leq |a|$ ، نو $-|a| \leq b \leq |a|$ ، له دې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$b \in \{-|a|, -|a|+1, \ldots, |a|-1, |a|\}, \quad (2.3)$$

دا فقط پای ډېر دي.

مګر : $a = 0$ ټول ګڼونه یا ټولعددونه د پروېشونو په څېر لري: $0 = b \cdot 0 \ \forall b \in \mathbb{Z}$
، دا په دې معنا چې $a$ ناپای ډېر پروېشوني لري.

پسې راتلنه یا لاس ته راوړنه 2.1.5 : د $a \in \mathbb{N}$ $(\Rightarrow a \neq 0)$ د زیاتیزو یا مثبتو
پروېشونو د ټاکلو له امله کېدی شي سړی ځان په هغه د $1 \leq b \leq \sqrt{a}$ سره رابند یا
محدود کړي.

ځکه چې : که $q$ د $a \neq 0$ یو پروېشونی وي د $q > \sqrt{a}$ سره او
$a = qr \ (r \in \mathbb{Z})$ وي، نو دی $r < \sqrt{a}$ ، ځکه چې :

$$r \geq \sqrt{a} \Rightarrow a = qr \geq q\sqrt{a} > \sqrt{a}\sqrt{a} = a \quad (2.4)$$

- تضاد! له دې سره $r$ پورره کېدونکې پروېشوني ده د $r \leq \sqrt{a}$ سره.

بېلګه 2.1.6 : $a = 80$ ، ټول پروېشوني غوښتونوي دي. د $\sqrt{80} < 9$ له امله ټول
زیاتیز یا مثبت پروېشوني $b$ دې د $1 \leq b \leq \sqrt{80} < 9$ سره وټاکل شي:

$$1, 2, 4, 5, 8; 80, 40, 20, 16, 10. \quad (2.5)$$

له دې سره ټول پروېشوني دي:

$$\pm 40, \pm 80 \ \pm 1, \pm 2, \pm 4, \pm 5, \pm 8, \pm 10, \pm 16, \pm 20,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژد( تعريف) 2.1.7: وي دې $a,b \in \mathbb{Z}$، نو $c \in \mathbb{Z}$ د $a,b$ ګډ پروبېښونی بلل کيږي، که $c \mid a$ او $c \mid b$ وي .

ياودونه2.1.8 : که $a \in \mathbb{Z}, a \neq 0$ وي، نو د$a$ [2.1.4](#) پسې يا له مخې فقط پای ډېر پروبېشوني لري. که $b \in \mathbb{Z}$ په خوښه وي، نو $a$ او $b$ فقط پای ډېر پروبېشوني لري. د اکسيوم [3d](#) له مخې $\mathbb{Z}$ توتالي (ټول يا بېخي) منظم دی، يعني د $a,b$ ګډ پروبېشونی يو خورا لوي توکی دی. نو سېرى کېږى شي تعريف کړي:

پېژند يا تعيف2.1.9 : ( خورا غټ ګډ پروبېشونی يا بزرګترين مقسوم عليه Greatest comon divisor) وي دې $a,b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو $\mathrm{ggT}(a,b)$ ( انګرېزي يې gcd(a,b) ) د ټولو ګډ پروبېشونو خورا لوی( يعني تر ټولو لوي) دی . دا يواځنی ټاکلی دی. دی، که $\mathrm{ggT}(a,b)=1$ وي، نو $a,b$ نسبي لومړني يا پريم بلل کيږي يا پروبېش پردېِ( ګډ اصلي پروبېشونی نه لري).

يادونه 2.1.10 : که $a,b \in \mathbb{Z}$ دواړه صفر نه وي. نو کېدی شي سړی د $\mathrm{ggT}(a,b)$ ټاکلو لپاره په زياتيزو يا مثبتو ګډو پروبېشونو ځنونه محدود کړي، ځکه چې $1$ يو ګډ پروبېشونی دی، يعني باور لري:

$$\mathrm{ggT}(a,b) \geq 1$$

بېلګه2.1.11 : $a=12, b=-8$

$a: 1,2,3,4,6,12;\ b: 1,2,4,8$ د زياتيز پروبېشنونې له دې لاس ته راځي ګډ مثبت پروبېشوني دي:

$$1,2,4 \Rightarrow \mathrm{ggT}(a,b)=\mathrm{ggT}(12,-8)=4$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اویکلید یا اقلیدس له مخې د $\mathrm{ggT}$ ټاکنه

جمله 2.2.1 : د اویکلید الګوریتم ( Algorithmus [1] [2.] Euklidische) وي دې $a, b \in \mathbb{N}$ او بې له ټولیزو بندیزونو $b \leq a$. که $b \mid a$ وي، نو ږدو $r_0 = b$، که $b \nmid a$ باور لري، ځکه چې که د وېش له لارې د پاتې سره $q_i, r_i \in \mathbb{Z}$ سرې په لاندې توګه ټاکي:

$$
\begin{aligned}
a &= q_0 b + r_1, && 0 \leq r_1 < b \\
b &= q_1 r_1 + r_2, && 0 \leq r_2 < r_1 \\
r_1 &= q_2 r_2 + r_3, && 0 \leq r_3 < r_2 \\
&\vdots \\
r_{m-1} &= q_m r_m + r_{m+1}, && 0 \leq r_{m+1} < r_m \\
&\vdots
\end{aligned}
$$

نو کوچنی $n \in \mathbb{N}_0$ شتون لري د $r_{n+1} = 0, r_n \neq 0$ سره او $r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$ باور لري .

ښوونه : که $b \mid a$ وي، نو باور لري

$$r_0 = b = \mathrm{ggT}(a, b), r_1 = r_{0+1} = 0 \qquad (2.6)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $a = b \cdot q_0 + r_1$ لپاره.

وي دې $b \nmid a$، نو $a = q_0 b + r_1, 0 \le r_1 < b$ باور لري د $r_1 \neq 0$ سره. د جوړښت له مخې باور لري

$$r_1 > r_2 > \cdots > r_i > r_{i+1} > \cdots . \qquad (2.7)$$

وي دې $M := \{r_i \mid r_i > 0\}$، نو $M \neq \emptyset$ دی، ځکه چې $r_1 \neq 0$، له دې سره $r_1 \in M$. د پوره نظم اصولو له مخې (Axiom 4) په $M$ کې یو کوچنی توکی شتون لري: $r_n$. نو باور لري:

$$r_n > 0 \ (r_n \in M) \quad \text{und} \quad r_{n+1} = 0 \ (0 \le r_{n+1} < r_n). \qquad (2.8)$$

وښایی : $r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$

- $r_n \mid a, b$ اخرنی مساوات یا برابرون دی:

| | |
|---|---|
| $r_{n-1} = q_n r_n (+ r_{n+1}),$ | (2.9) |

نو $r_n \mid r_{n-1}$. له اخر د مخه مساوات دي:

| | |
|---|---|
| $r_{n-2} = q_{n-1} r_{n-1} + r_n,$ | (2.10) |

نو $r_n \mid r_{n-1}, r_{n-2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که په ورته توګه مخ ته لاړ شو، نو ترې لاس ته راځي

$r_n \mid r_2, r_n \mid r_1, r_n \mid b$ او له دې امله

| | |
|---|---|
| $r_n \mid q_0 b + r_1 = a \Rightarrow r_n \mid a, b.$ | (2.11) |

$r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$

$t$ دې په خوښه يو د $a, b$ مثبت پروېشونی وي. نو د لومړي مساوات څخه لرو :

| | |
|---|---|
| $r_1 = a - q_0 b \overset{2.1.3(6)}{\Rightarrow} t \mid r_1;$ | (2.12) |

له 2 مساوات :

| | |
|---|---|
| $r_2 = b - r_1 q_1 \Rightarrow t \mid r_2,$ | (2.13) |

او همداسې پسې، تر

$$t \mid r_{n-1}, t \mid r_n \overset{2.1.3(4)}{\Rightarrow} |t| \leq |r_n|. \qquad (2.14)$$

$t$ مثبت، $\Rightarrow t \leq r_n \Rightarrow r_n$ مثبت له دې لاس ته راځي $\mathrm{ggT}(a, b)$. غټ ګډ پروېشونی دی.

يادونه 2.2.2 : که د اعدادو يو ( يا دواړه) $a, b \in \mathbb{Z}$ د صفر کوچني وي، نو د اوکليد الګوريتم دې په $|a|$ همداسې په $|b|$ باندې وکارول شي، ځکه چې

موږ د $a, b$ د مثبت پروېشونو پيداکېدل غواړو ( پام $\mathrm{ggT}(a, b) \geq 1$ ).

بېلګه2.2.3 : $a = 97, b = -44$ ، نو باور لري : $|b| = 44 \leq 97 = a$ ، نو لاس ته راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$97 = 44 \cdot 2 + 9 \quad 0 \le 9 < 44$$

$$44 = 9 \cdot 4 + 8 \quad 0 \le 8 < 9$$

$$9 = 8 \cdot 1 + 1 \quad 0 \le 1 < 8$$

$$8 = 1 \cdot 8 \qquad \Rightarrow \mathrm{ggT}(97, -44) = \mathbf{1}$$

پېژند یا تعریف2.2.4 : (کرښیز کمپرزېشن یا – یوځای اینسوونه) : وي دې $a, b \in \mathbb{Z}$ ، نو یو $c \in \mathbb{Z}$ د $a, b$ کرښیز کمپوزېشن بلل کیږي، که $c = xa + yb$ وي د ځانګړو $x, y \in \mathbb{Z}$ سره.

که $c, d$ د $a, b \in \mathbb{Z}$ کرښیز ښیز کمپوزېشنونه وی، په دې پسي $\alpha c + \beta d,$ ، $\forall \alpha, \beta \in \mathbb{Z}$ .

هم کرښیز کمپوزېشن دی..

جمله 2.2.5 : ( اوکلید) که وي $a, b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو $\mathrm{ggT}(a, b)$ د $a, b$ : یو کرښیز کمپوزېشن دی، د ټاکلو $x, y \in \mathbb{Z}$ لپاره. $\mathrm{ggT}(a, b) = xa + yb$

ښوونه:

لومړی $b > 0$ : نو $0 < b \le a$ ، یعني $a, b \in \mathbb{N}$ ، داسې چې د اوکلید الګوریتم 2.2.1 سره باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| $\mathrm{ggT}(a,b) = r_n, r_{n+1} = 0, r_0 = b \quad b \mid a.$ ; | (2.15) |

دويم . له دې سره باور لري

$$r_{n-2} = q_{n-1}r_{n-1} + r_n, \ldots, a = q_0 b + r_1$$

| | |
|---|---|
| داپه دې معنا چې $r_1$ د $a, b$ کمپوزېشن دی | $r_1 = a - q_0 b,$ نو |
| داپه دې معنا چې $r_2$ د $a, b$ کمپوزېشن دی | $\Rightarrow r_2 = b - q_1 r_1,$ |
| داپه دې معنا چې $r_n$ د $a, b$ کمپوزېشن دی | $\cdots \Rightarrow \underbrace{r_n}_{\mathrm{ggT}(a,b)} = r_{n-2} - q_{n-1}r_{n-1},$ |

.1 $\Rightarrow \mathrm{ggT}(a,b) = xa + yb$

د $x, y \in \mathbb{Z}$ د ټاکلو یا معلومو لپاره .

.2 $b = 0$ : $d = \mathrm{ggT}(a,b) = a = 1 \cdot a + 0 \cdot b$

.3 $b < 0$ : نو $-b > 0$ دی او له ۱ . حالته باو لري
$\mathrm{ggT}(a,b) = x \cdot a + y \cdot (-b)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



( که غوښتوني وي$a$ له $-b$ سره بدله کړی، که $a < -b$ باور ولري) . که $r_0 = b$ وي، نو $b \mid a$ او $\mathrm{ggT}(a,b) = 0 \cdot a + 1 \cdot b.$ باور لري.

□

یادونه 2.2.6 : ښوونه ښېرته جوړختیزه ده، دا یو متود راکوي د $x, y \in \mathbb{Z}$ تاکلو لپاره په $\mathrm{ggT}(a,b) = xa + yb$ کي، داسي چي د اوکلید الگوریم څخه پاتي افاده کوو یا وایو له مخ ته تیرو د کرښیز کمپوزیشن لویو څخه او په لاندي راتلونکي مساوات کي يي ځاېه ځایو کوو.

بېلګه 2.2.7 : $a = 111, b = 39$ ، نو دی $b = 39 \leq 111 = a$ ، داسي چي د2.2.1 سره باور لري:

$$
\begin{aligned}
111 &= 2 \cdot 39 + 33 & 3 &= 33 - 5 \cdot 6 \\
39 &= 1 \cdot 33 + 6 & &= 33 - 5(39 - 33) = 6 \cdot 33 - 5 \cdot 39 \\
33 &= 5 \cdot 6 + 3 & &= 6(111 - 2 \cdot 39) - 5 \cdot 39 \\
6 &= 2 \cdot 3. & &= 6 \cdot 111 - 17 \cdot 39
\end{aligned}
$$

.

بېلګه 2.2.8 : د $\mathrm{ggT}(a,b)$ د تاکلو لپاره ، که $a$ او $b$ د یوې اووښتوني یا متحولې په واک کي وي یا تابع وي.

غواړو پیدا کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$d := \mathrm{ggT}(2k-1, 9k+4) \ (k \in \mathbb{Z}).$$

د $d \mid 2k-1, d \mid 9k+4$ له امله ، په ځانګړې توګه باور لري:

$$b \mid 9(2k-1) + (-2)(9k+1) = -17. \quad (2.16)$$

( $x, y$ داسې ټاکل سوي دي، چې له هغې سره اووښتوني یا متحوله لرې کیږي، دا زیات وخت ممکن دی، ځکه چې $d = xa + yb$ د $\forall x, y \in \mathbb{Z}$ ).

له دې سره باور لري: $d = 1$ یا $d = 17 \ (d > 0)$ . د کوم $k \in \mathbb{Z}$ لپاره $d = 17$ دی؟

که $d = 17$ وي ، نو دا په دې معنا چې $17 \mid 2k-1, 17 \mid 9k+4$ ، یعنې $2k - 1 = 17 \cdot t$ د $t \in \mathbb{Z}$ یوه لپاره، له دې امله $k = \frac{1}{2}(17t+1)$ .

له دې امله باید $t$ ناجوړه یا طاق وي( پرته له دې $k \in \mathbb{Z}$ دی )، یعنې $t = 2n-1, n \in \mathbb{Z}$ . له دې نمله :

$$k = \frac{1}{2}(17(2n-1)+1) = \frac{1}{2}(34n-16) = 17n-8. \quad (2.17)$$

برعکس یا په څټ: که د یوه $n \in \mathbb{Z}$ لپاره $k = 17n - 8$ وي، نو بلاور لري:

$$2k - 1 = 34n - 16 - 1 = 34n - 17 = 17(2n-1)$$

دا په دې معنا چې $17 \mid 2k-1$ .

$$9k + 4 = 9 \cdot 17n + 4 - 72 = 17(9n-4)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې معناچي $17 \mid 9k+4$ .

له دې امله باور لري: $d=17 \Leftrightarrow k=17n-8, n\in\mathbb{Z}$ په خوښه، $d=1$ پرته له دې له 2.2.5 څخه لاس ته راوړنې.

کورولار یا جملګی2.2.9 : وي دې $a,b\in\mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو باور لري:

1. $d=\mathrm{ggT}(a,b) \Rightarrow \mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d})=1$
2. $t\mid a, t\mid b$ د $\mathrm{ggT}(\frac{a}{t},\frac{b}{t})=1$ سره ، نو دی $\mathrm{ggT}(a,b)=|t|$ .
3. $m\in\mathbb{Z}, n\neq 0$ ، نو $\mathrm{ggT}(a\cdot m, b\cdot m)=|m|\cdot\mathrm{ggT}(a,b)$

*ثبوونه:* ad 1:

د2.2.5 له مخې باور لري: $d=xa+yb$ د تاکلو $x,y\in\mathbb{Z}$ لپاره، یعنې $d\cdot 1=d(x\frac{a}{d}+y\frac{b}{d})$ ، داسې چې باور لري ( $d\neq 0$ ) $1=x\frac{a}{d}+y\frac{b}{d}$ .

وي دې $t\geq 1$ په خوښه د $t\mid\frac{a}{d}, t\mid\frac{b}{d}$ سره، نو د 2.1.3(6) له مخې: $t\mid 1$،

دا په دې معنا چې $|t|\leq 1$ ، یعنې $t\leq 1$ ، له دې سره $t=1$ . نو $\mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d})=1$ .

ad 2:

له $\mathrm{ggT}(\frac{a}{t},\frac{b}{t})=1$ د:2.2.5 سره د معلومو $\alpha,\beta\in\mathbb{Z}$ لپاره راکوي $1=\alpha\frac{a}{t}+\beta\frac{b}{t}$ ، یعنې $t=\alpha a+\beta b$ . د وړاندنیونو(فرضیو) وروسته $|t|$ د $a,b$ یو ګډ پروېشونی دی. وي دې $s\geq 1, s\mid a, s\mid b$ په خوښه، نو د :2.1.3 له مخې $s\mid t$ باورلري، داسې چې $|s|\leq|t|$ دی، دا په دې معنا چې $s\leq|t|$ .

یعنې $\mathrm{ggT}(a,b)=|t|$ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ad 3:

د 1 له مخې د $d = \operatorname{ggT}(a, b)$ لپاره باور لري، چې $\operatorname{ggT}(\frac{a}{d}, \frac{b}{d}) = 1$، د $d \mid a, b$ له امله د 2.1.3 پسې لاس ته راځي $md \mid ma, mb$، له دې سره لاس ته راځي $\operatorname{ggT}(\frac{a}{d}, \frac{b}{d}) = \operatorname{ggT}(\frac{ma}{md}, \frac{mb}{md}) = 1$، د 2 پسې لاس ته راځي

$$|md| = \operatorname{ggT}(ma, mb)$$

داپه دې معنا چې . $|m| \cdot d = |m| \operatorname{ggT}(a, b) = \operatorname{ggT}(ma, mb).$ .

یادونه 2.2.10 : که $\frac{a}{b} \in \mathbb{Q}$ وي( ریښتوني یا راشنل)، نو د تولو : $d = \operatorname{ggT}(a, b)$ لپاره $\frac{\frac{a}{d}}{\frac{b}{d}} = \frac{a}{b}$ باور لري. د 2.2.9(1) له مخې باور لري: $\operatorname{ggT}(\frac{a}{d}, \frac{b}{d}) = 1$، دا په دې معنا چې $\frac{1}{b}$ کېدی شي په $\frac{c}{d}$ بڼه د $\operatorname{ggT}(c, d) = 1$ سره ولیکل شي ( $c, d$ حتی یواځني ټاکلي دي).

Korollar ( جمله، چې د بنوول شوې جملې څخه لاس ته راځي کورولار بلل کیږي) :2.2.11

وي دې $a, b \in \mathbb{Z}$، نه دواړه صفر، نو باور لري: $d \in \mathbb{N}$ ګڼ یا عدد تیک هلته خرا غټ پروېشونی(لنډ:خ غ پ ggT = gcm ) $\operatorname{ggT}(a, b)$ دی، که

(1) $d \mid a, d \mid b$ .

(2) $c \mid a, c \mid b$ ($c \in \mathbb{Z}$ ) په خوښه $c \in \mathbb{Z}$) له دې لاس ته راځي c|d.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ښوونه:*

$(\Rightarrow)$

دی $d = \text{ggT}(a,b)$ ، نو باور $d \mid a, d \mid b$ لري، دا په دې معنا چې (1) باور لري، وي دې $c$ د $a,b$ په خوښه پروېشونی، نو له $d = xa + yb \ (x, y \in \mathbb{Z}$ لاس ته راځي ( جمله [2.2.5](#)دې وکتل شي)، چې $c \mid d$ دی([2.1.3](#)) ، دا په دې معناچې(2) باور لري.

$(\Leftarrow)$

د (1) له مخې $d$ د $a,b$ ګډ پروېشونی دی. وي دې $c \in \mathbb{Z}, c \geq 1$ په خوښه د $a,b$ پروېشونی، نو د (2) له مخې لاس ته راځي $c \mid d$ ، دا په دې معنا چې د[2.1.3](#) پسې $|c| \leq |d|$ دی ، له دې سره $c \leq d$ . يعنې $d$ د $a,b$ خورا غټ ګډ پروېشونی( بزرګترين مقسوم عليه مشترک؟) دی

□

جمله2.2.12 : (ښسټيزه lemma ( مرستندوی جمله چې د ښوونې يا ثبوت په جريان کې په کار راځي)) وي دې $a, b, c \in \mathbb{Z}, a \neq 0, \text{ggT}(a,b) = 1$ ، نو د $a \mid b \cdot c$ له مخې لاس ته راځي ،چې $a \mid c$ دی.

ښوونه : له $\text{ggT}(a,b) = 1$ لاس ته راځي

| | |
|---|---|
| (2.18) | $1 = xa + yb$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه یا ټاکلو $x, y \in \mathbb{Z}$ لپاره. له دې امله لاس ته راځي

$$c = xca + ybc. \quad (2.19)$$

دا چې د وړاندنیوني $a \mid bc, a \mid a$ څخه باور لري $\overset{2.1.3}{\Rightarrow} a \mid c.$ □

دپیښي یادون: اوکلید د200-365 ز ک څخه له مخه.

د $a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

## خورا غټ ګډ پروېشونی $a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

پېژند یا تعریف :

لومړی : $a_1, \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$ دې وي، نو $b \in \mathbb{Z}$ د $a_1, \ldots, a_n$ ګډ پروېشونی بلل کیږی، که $b \mid a_i, i = 1, \ldots, n$ باور دلري.

دویم : د ټول خورا غټ ګډ پروېشونی ( نسبت $\leq$ ته) د $\operatorname{ggT}(a_1, \ldots, a_n)$ سره په نخښنه کیږي. که ټول $a_i = 0$ صفر نه وي، نو $a_i \neq 0$ هر یو فقط پای ډېر پروېشوني لري، یعنې هم پای ډېر ګډ پروېشوني. د دوي تر منځ یو خورا غټ شتون لري.

دریم : که $\operatorname{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = 1$ وي، نو $a_1, \ldots, a_n$ نسبي لومړني(وروسته به دا پروېش پردي وبلل شي) بلل کیږي.

څلورم : $a_1, \ldots, a_n$ جوړه(حفت) نسبيي لومړني ګنونه یا عددونه بلل کیږي، که $\operatorname{ggT}(a_i, a_j) = 1$ وي د ټولو $\forall i \neq j$ لپاره.

یادونه 2.3.2 : له جوړه نسبي لومړنیو څخه لومړني لاس ته راځي. برعکسونه یا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړ کېدنه يې باور نه لري:

$$\mathrm{ggT}(1,2,4)=1, \mathrm{ggT}(2,4)=2$$

دا په دې معنا چې $(1,2,4)$ نسبي لومړني مګر نه جوړه لومړني ګڼونه دي.

جمله2.3.3 : وي دې $a_1,\ldots,a_n\in\mathbb{Z}$ ، نه ټول صفر او $d=\mathrm{ggT}(a_1,\ldots,a_n)$ . نو باور لري:

| | |
|---|---|
| $d=\sum_{i=1}^{n}x_ia_i$ | (2.20) |

د څه يا ځنو $x_i, i=1,\ldots,n$ لپاره.

ښوونه : وي دې

| | |
|---|---|
| $M:=\{c_1a_1+\cdots+c_na_n\in\mathbb{Z}\mid c_i\in\mathbb{Z}\ i=1,\ldots,n\},$ | (2.21) |

نو $M\neq\emptyset$ او $i\neq j)$ د باور لري $a_i\in M, i=1,\ldots,n\ (c_i=1, c_j=0$
لپاره. د $a_i\in M$ له امله هم $-a_i\in M$ باور لري، که $a_i\notin\mathbb{N}$ وي،
نو $-a_i\in\mathbb{N}$ باور لري ، دا په دې معناچې هم $M$ طبيعي يا پيداېښتي ګڼونه يا عددونه لري. د $\mathbb{N}$ د ټولنظم له مخې په $M$ کې د ټولو طبيعي اعدادو ډېرۍ يا سټ يو خوا کوچنی توکی $d^*$ لري، دا په دې معناچې

| | |
|---|---|
| $d^*=x_1a_1+\cdots+x_na_n$ | (2.22) |

د ځنو $x_1,\ldots,x_n\in\mathbb{Z}$ لپاره . وښايی: $d^*=d=\mathrm{ggT}(a_1,\ldots,a_n)$ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاتې سره د $a_i$ وېشنه په $d^*$ له لارې راکوي:

| | |
|---|---|
| $a_i = q_i d^* + r_i, 0 \leq r_i < d^*;$ | (2.23) |

نو $r_i = a_i - q_i d^*$ او $r_i \in M$ د $a_1, \ldots, a_n$ کرښيز کمبينيشن دی، همداسي $a_i$ ، په تعقيب کمښت يا تفريق هم. له دې سره له $0 \leq r_i < d^* : r_i = 0.$ څخه لرو. يعني:

$$a_i = q_i d^* \quad \text{und} \quad d^* \mid a_i \ \forall i = 1, \ldots, n. \ (2.24)$$

وي دې $t \geq 1$ د $a_1, \ldots, a_n, t$ يو په خوښه ګډپروېشونی، نو $t$ هر کرښيز کمبينيشن وېشي يعني دا لاندې هم

$$t \mid x_1 a_1 + \cdots + x_n a_n = d^*; \ (2.25)$$

له دې سره د 2.2.11 پسې لرو، چې $d^* = \mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = d.$

□

د $d = \mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n)$ د تاکلو لپاره تلنلار:

د $n = 2$ لپاره: د اويکليد الګوريتم، جمله 2.2.1 .

د $d \geq 1$ له امله کېدی شي سرې تول $a_i > 0$ ونيسي(فرض کړي)( پرته له دې مطلق ارزښت، $a_i$ ، چې صفر دي،(لرې)پرېږدي). سرې اوس د $a_1, \ldots, a_n$ لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خورا کوچنی لټوي، دا دې بې له تولیزو بندیزونو $a_1$ وي( کېدی شي نمره بدل شي). د پاتې سره د $a_2, \ldots, a_n$ وېش د $a_1$ له لارې راکوي:

$$a_i = q_i a_1 + r_i, 0 \leq r_i < a_1 \;\; i = 2, \ldots, n. \quad (2.26)$$

وښایي:

$$d = \text{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = d' = \text{ggT}(a_1, r_2 \ldots, r_n)$$

وي دې

$$d := \text{ggT}(a_1, \ldots, a_n), d' := \text{ggT}(a_1, r_2 \ldots, r_n); \quad (2.27)$$

نو باور لري $d \mid a_1, \ldots, a_n$ ، یعنې $d \mid a_1$ ، او له $r_i = a_i - q_i a_1$ لاس ته راځي $d \mid r_i \;\; (i = 2, \ldots, n)$ ، دا په دې معناچې $d$ د $a_1, r_2, \ldots, r_n$ یو ګډ پروېشونی دی. $d'$ خورا لویه ده له دې لاس تخ راځي $\Rightarrow d \leq d'$

برعکس یا په خټ باور لري: $d'$ $a_1, d' \mid r_i \;\; (i = 2, \ldots, n)$ وېشي،، یعنې داسې لاس ته راځي $a_i = q_i a_1 + r_i : d' \mid a_i \;\; (i = 2, \ldots, n)$ ( د لیما یا جملګۍ 2.1.3 پسې )، یعنې $d'$ د $a_1, \ldots, a_n$ ګډپروېشونی دی. $d$ خورا لوی دی له دې لاس ته راځي $\Rightarrow d' \leq d \overset{3b}{\Rightarrow} d = d'.$ .

یادونه : په پام کې دې وي: د دې تلنلار سره ګڼونه یا غددونه تل کوچني کیږي( $0 \leq r_i < a_1$ ) او د امکان په حالت کې حتی کمیږي( کېدی شي $r_i = 0$ وي).

بېلګه 2.3.5 : $d = \text{ggT}(721, 613, 114)$ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



$a_1 = 114$ ، وېش له پاتې سره :

$$721 = 6 \cdot 114 + 37, 0 \leq 37 < 114$$

,

$$613 = 5 \cdot 114 + 43, 0 \leq 43 < 114$$

.

له دې سره: $d = \mathrm{ggT}(114, 37, 43)$ .

$\tilde{a}_1 = 37$ ، وېش له پاتې سره:

$$114 = 4 \cdot 37 + 3, 0 \leq 3 < 37$$

,

$$43 = 1 \cdot 37 + 6, 0 \leq 6 < 37$$

.

له دې سره: $d = \mathrm{ggT}(37, 3, 6)$ .

$\tilde{\tilde{a}}_1 = 3$ ، وېش له پاتې سره:

$$37 = 12 \cdot 3 + 1, \cdots \Rightarrow d = 1$$

.

## ۳ - لومړني ګڼونه( اعداد) Primzahlen

لومړني ګڼونه$\mathbb{P}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Die Menge der Primzahlen $\mathbb{P}$

### بنسټونه *Grundlagen*

پېژند(تعریف) 3.1.1 : یو طبیعي ګڼ یا عدد $p$ لومړنی بلل کیږي، که هغه فقط ساده پروېشوني ولري، دا په دې معنا، چې فقط $\pm 1, \pm p$ پروېشوني دي.

د ټول لومړنیو اعدادو ډېرۍ د $\mathbb{P}$ سره په نخښه کوو.

جمله : (اویکلید) ناپای ډېر لومړني ګڼونه شته.

ښوونه: نیسو، چې $p_1, \ldots, p_n$ ټول لومړني اعداد دي چې شتون لري. جوړوو

$$N := p_1 \cdots p_n + 1. \quad (3.1)$$

ترڅېرني نیسو

$$M := \{q \in \mathbb{N} \mid q > 1 \text{ او } q \mid N\}, \quad (3.2)$$

نو $M \neq \emptyset$ دی، ځکه چې $N \in M$ ( په ساده توګه $N > 1, N \mid N$ ). د ټول نظم اصولو سره یو خورا کوچنی توکی $q$ شتونلري، دا په دې معنا، چې $q > 1$ او $q \mid N$ . وښایې: $q$ یو لومړنی عدد دی:

وي دې $t > 1$ د $t \mid q$ سره، نو د 2.1.3 پسي لاس ته راځی، چې $t \mid N \Rightarrow t \in M$ . له $t \leq q$ ، $q$ د $M \Rightarrow t = q$ خورا کوچنی توکی دی.

یعني $q$ لومړنی ګڼ دی، له نیوني څخه لاس ته راځي: $\exists j : q = p_j$ . له دې سره $q \mid N \ (q \in M)$ باولري او په ساده توګه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$p_j \mid p_1 \cdots p_n \overset{2.1.3}{\Rightarrow} p_j \mid N - p_1 \cdots p_n = 1 \Rightarrow p_j \leq 1, \quad (3.3)$$

- تضاد□

د ټول لومړنيو اعدادو ټاکل، چې $\leq n$ دي ( $n \in \mathbb{N}$ ورکړ شوی): د اراتوستنس[3.1] *Eratosthenes* غلبېل :

تر له $1$ تر $n$ پورې ټول ګڼونه وليکه، که ټول لومړني $\leq \sqrt{n}$ اعداد پېژندل شوي وي، نو سرې دې د ټولو دې لومړنيو ګڼونو په دېرواره کربنه راکاږي ( تر پخپله لومړني $\leq \sqrt{n}$ عدد پورې)، اوس فقط لومړني ګڼونه پاتې دي.

بېلګه 3.1.3 : ټول له $\leq 50$ لومړني عددونه وټاکی. د $\sqrt{50} < 8$ او $2, 3, 5, 7$ له امله ټول لومړني $< 8$ عددونه لاس ته راځي( $\leq 50$ جوړه اعداد کېدی شي تر $2$ پورې لري شي):

$2, 3, 5, 7, \not{9}, 11, 13, \not{15}, 17, 19, \not{21}, 23, \not{25}, \not{27}, 29, 31, \not{33}, \not{35},$

$37, \not{39}, 41, 43, \not{45}, 47, \not{49}$

ټول اعداد چې کربنه په راکښل شوې نه ده لومړني اعداد دي او $\leq 50$ دي.

يادونې 3.1.4 :

لومړی: د دې لپاره چې ايا يو عدد پريم دی، که نه، يوه اغيزمنه – يا اقتصادي تلنلار نه شته( لږ تر لږه تر اوسه، وګوری[Gut02b, Rie94] )، کارونه يا استعماليې په کريپتولوژي Kryptologie کې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: د لومړنیو ګڼونو جمله:

که $\pi(x)$ د لومړنیو ګڼونو $\leq x\ (x \in \mathbb{N})$ ګڼون یا تعداد وي ، نو باور لري

| | |
|---|---|
| (3.4) | $\pi(x) \sim \frac{x}{\ln x}$ |

دریم: د لویې $x \in \mathbb{N}$ لپاره

نږدې:

$$\pi(100) \sim 178; \pi(1000) \sim 1247; \pi(10000) \sim 9360$$

څلورم : لومړني اعداد په طبیعي اعدادو کط ډېر نامنظم خواره دي، له یوې خوا یو په بل پسې لومړني ګڼونه شتون لري، چې د هغو کمښت 2 دی، داسې په نامه د لومړنیو اعدادو غبرګوني: ( اټکل کیږي، چې ناپای ډېر د لومړنیو اعدادو غرګوني شتون لري، د دې لپاره [HL22], [Gut02a] وګورئ).

له بلې خوا د دوه لومړنیو اعدادو ترمنځ په خوښه لویې تشیاوې شتون لري:وي دې $n \in \mathbb{N}$ ، نو $(n+1)! \quad +(n+1)$ $(n+1)!+2, \dots,$ ګڼونه همدا اوس $n$ یو په بل پسې اعداد دي، چې لومړني اعداد نه دی، ځکه چې:

که $g = (n+1)! + k$ د $2 \leq k \leq n+1$ سره وي، نو باور لري

$k \mid k, k \mid (n+1)!$ له دې لاس ته راځي $\overset{2.1.3}{\Rightarrow} k \mid g$ ، کوم ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او $k \neq 1\ (2 \leq k)$ $k \neq g\ (g = (n+1)! + k > k)$ ( د اعدادو پرلپسي.

کېدی شي لا له پخوا رامنځ ته شي، لکه د $n = 4$ لپاره $24 - 27$ دی دا همدا

اوس یوه تشیا ده، لکه چي غوښتل مو چېرته چي $27 \ll (4+1)! + 2$ دی).

پنځم : د دیریښلیت Dirichlet[3.2] جمله : که $a, b \in \mathbb{N}$ وي د $\text{ggT}(a, b) = 1$ سره، نو ډېری دا لاندي خوندي لري

$$\{ak + b \mid k = 1, 2, \ldots\} \quad (3.5)$$

ناپای ډېر لومړني اعداد. ( د اریتمیتیکي پروګرشن لپاره د لومړنیو اعدادو جمله، ثبوت یې ډېره پېچلې ده!)

د $\{4k + 1 \mid k = 1, 2, \ldots\}$ لپاره ، همداسي $\{4k + 3 \mid k = 1, 2, \ldots\}$ لپاره لږ څه وروسته ښایو( جمله 9.2.8 همداسي جمله 3.1.10 وګورئ).

شپږم: د $2^{2^n} + 1 (n \in \mathbb{N})$ بڼي عدد د فرمات عدد *Fermat'sche Zahl*[3.3] بلل کیږي، د $n = 0, 1, 2, 3, 4$ لپاره په رېښتوني لومړني اعداد دي:
$3, 5, 17, 257, 65.537$
.

له دې پسي چا نور د فرمات اعداد بیدا نه کړل. تر اوسه معلومه نه ده، چي ایا پای او که ناپای ډېر فرمات ګڼونه شتون لري. د فرمات کوچنی عدد، چي تراوسه یې څوک ترتیبولی نه شي $F_{33}$ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم : يو د $2^n - 1 \ (n \in \mathbb{N})$ بڼي عدد د مرزن عدد *Mersenne'sche Zahl*[3.4] بلل کيږي. د دې ډول ټول اعداد لومړني اعداد نه دي. دلته هم روښانه نه ده، چې ايا پای ډېر مرزن ګڼونه شتون لري. دا تراوسه خورا ستر لومړنی عددد مرزن عدد دی، داسي نامېز $p = 2^{13.466.917} - 1$ .

اتم: د ګولدباښ ګومان : هر جوړه عدد له څلور سره برابر يا ترې لوی وي د دوه لومړنيو اعدادو د زياتون يا جمعي په څېر انځورېږ دی. ( د بېلګي په توګه $4 = 2 + 2, 6 = 3 + 3, 8 = 3 + 5, \ldots$ ). د عدد 1742 په هکله ګومان کېدی شي نه تراوسه وښوول شي او نه رد شي.

جمله3.1.5 : که $a_1, \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$ وي او $p$ يو لومړنی عدد د $p \mid a_1 \cdots a_n$ سره وي، نو لږ تر لږه $p$ د ضريبونن يا څلوونو $a_i, 1 \le i \le n$ څخه يو وېشي.

ښوونه: د $n$ پسي ايندکشن:

$n = 1$ :ساده دی.

$n \to n + 1$ :

وي دې $p \mid a_1 \cdots a_n a_{n+1}$ ، باور لري $p \mid a_{n+1}$ ، نو وښوول شو. پرته له دې: نو $p \nmid a_{n+1}$ $\mathrm{ggT}(p, a_{n+1}) = 1$ دی، داسي چې د بنسټيزې جملګی[2.2.12] څخه لاس ته راځي، چي $p \mid a_1 \cdots a_n$ . د ايندکشن د نيوني يا فرضيي څخه لاس ته راځي $p \mid a_i$ د $1 \le i \le n$. لپاره.

□

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راوړنه3.1.6 : د $n = 2$ لپاره باور لري: د $p$ $a_1 \cdot a_2$ یو پروپښونی دی، $p$ لومړنی ګڼ له دی لاس ته راځي $p \mid a_1 \vee p \mid a_2 \vee p \mid a_1, a_2$ . په ځتوالی یا

معکوسوالی هم باور لري: که $g$ یو طبیعي عددد وی د،،

$g \mid a_1 \cdot a_2 \ (a_1, a_2 \in \mathbb{Z})$ سره، نو تل دواړه $g \mid a_1 \vee g \mid a_2 \vee$ لاس ته راځي،،

، نو $g$ بیا یو لومړنی ګڼ دی.

ښوونه: نیسو، چې $g$ لومړنی عدد نه دی، نو $g$ بیا اصلي پروپشوني لري، دا په دې معنا چې $g = a \cdot b$ ، چېرته چې $1 < a < g, 1 < b < g$ دي . نو باور لري: $g \mid a \cdot b$ ، یعني د نیوني له مخې $g \mid a \vee g \mid b$ . که $g \mid a$ وي، نو د $a \mid g \ (g = a \cdot b)$ سره لاس ته راځي، چې $g = \pm a$ - تضاد.

که $g \mid b$ وي، نو په ورته توګه لاس ته راځي $g = \pm b \Rightarrow g$ ، چېg باید لومړنی وي.

□

## نور خویونه Weitere Eigenschaften

جمله 3.1.7 : ( لومړني ضریبتوته ونه یا په لوړنیو ضریبونو توټه کونه) هر طبیعي عدد $n > 1$ کېدی شي په یواځني ډول د لومړنیو عددونو دضرب په څېر ولیکل شي( دا په دې معنا ، چې لومړني ګڼونه د $\mathbb{N}$ ضربیي جوړښتخښتې دي).

ښوونه:

شتونوالی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په $n$ پسې د ( ټولیز شوي) ایندکشن Induktion له لارې:

: $n = 2$

ساده

: $n-1 \to n:$

ښايو: جمله د $2,3,\ldots,n-1$ لپاره ټیک ده.

نسیده، نیسو چې$\exists k : 2 \leq k \leq n-1$ ، کوم چې د لومړنیو ګڼونو یا عددونوضرب نه دی. وي دې $k_0$ د دوی ترمنځ خورا کوچنی عدد. نو $k_0$ لومړنی عدد نه دی. یعنې که باور ولري $k_0 = a \cdot b$ ، چېرته چې $a < b < k_0$ ، له دې سره لاس ته راځی:

$a$ او $b$ هر یو د لومړنیو ګڼونو ضرب دی، له دې امله $k_0$ هم د لومړنیو ګڼونو ضرب دی – تضاد!

وښايي: $n$ د لومړنیو عددونو ضرب نه دی.

که $n$ لومړنی عدد وي، نو موږ کار تمام کړ.

که $n$ لومړنی عدد نع وي، نو$n = cd$ باور لري د $1 < c, d < n$ سره. د پورته پام کوني څخه جمله د $c, d$ لپاره ټیک ده، دا په دې معنا چې $c, d$ هر یو د لومړنیو عددونو ضرب دی، یهنې هم $n = c \cdot d$ .

یواخېوالی یا یواځنوالی:

وي دې $n > 1$ او

| | |
|---|---|
| (3.6) | $n = p_1 \cdots p_r = q_1 \cdots q_s$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کومو سره چې $p_i, q_j \in \mathbb{P}, r \leq s$ . د $p_1 \mid p_1 \cdots p_r$ له امله لاس ته راځي $p_1 \mid q_1 \cdots q_s$ ، د 3.1.5 پسې لرو $p_1 \mid q_i$ ( $p_1$ لومړنی عدد) د لږ تر لږه یوې $i$ لپاره د $1 \leq i \leq s$ سره ، له دې امله $p_1 = \pm 1$ یا $p_1 = \pm q_i$ ( $q_i$ لومړنی عدد ) ، یعنې $p_1 = q_i$ ( $p_1$ لومړنی عدد دی، یعنې $> 1$ ) . د نمره بدلون سره کېدی سرې لاس ته راوړي: $p_1 = q_1 \ (q_i \rightarrow q_1)$ . له دې سره لاس ته راځی

$$p_1 p_2 \cdots p_r = q_1 q_2 \cdots q_s \Leftrightarrow p_2 \cdots p_r = q_2 \cdots q_s; \quad (3.7)$$

په ورته توګه‌مخ ته ځو، تر $p_r = q_r, 1 = q_{r+1} \cdots q_s$ پورې.

که $s > r$ وی نو باور لري چې $q_{r+1}$ بنی خوا وېشي: $q_{r+1} \mid 1$ ،یعنې $q_{r+1} \leq 1$ ، و $q_{r+1}$ ته تضاد چې لومړنی عدد دی له دې لاس ته راځي $\Rightarrow s = r$ او له دې سره $p_i = q_i, 1 \leq i \leq r$ .

یادونه 3.1.8 : که $g \in \mathbb{Z}$ وي د $g < -1$ سره، نو $-g > 1$ دی او د 3.1.7 پسې $-g = p_1 \cdots p_r$ د ځنو ، یواځنیو، لومړنیو ضزیبونو لپاره، یعنې $g = -p_1 \cdots p_r$ .

یادونه 3.1.9 : که د $n > 1,$ د لومړنیو ضریبونو توته کونه سره یوځای کړو

$$n = p_1 \cdots p_r \quad (3.8)$$

مساوي ععدونه سره یوځای کړو، نو د لومړنیو عددونو توان لاس ته راځی، یعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| (3.9) | $n = p_1^{\alpha_1} \cdots p_r^{\alpha_r}, \alpha_i \in \mathbb{N}.$ |

که دا دلته نه شتون لرونکو لومړنیو عددونه د $p$ $p^0 := 1$ له لارې پوره کړو، نو سرې لیکلی شي:

$$n = \prod_{p \in \mathbb{P}} p^{\alpha_p} \quad (3.10)$$

( د ټول لومړنیو عددونو ضرب، فقې پای ډېر $\alpha_p \neq 0$ !). له دې سره $1 = \prod_{p \in \mathbb{P}} p^0$ هم لیکلی شو. یعنې د په ټولیزه توګه د ټول $g \in \mathbb{Z}, g \neq 0$ لپاره باور لري :

$$g = \pm \prod_{p \in \mathbb{P}} p^{\alpha_p} \qquad (\alpha_p \in \mathbb{N}_0). \quad (3.11)$$

جمله 3.1.10 ( دیریښلیت) د $4k + 3 \; (k = 0, 1, \dots)$ بڼې ناپای ډېر لومړني ګڼونه شتون لرى، دا به دې معنا ، چې د $\{3, 7, 11, 15, 19, \dots\}$ عدونو په ډېرئ کې ناپای ډېر لومړني عددونه شتون لرى..

ښوونه: نیسو چې په دې ډول ډېر لومړني عددونه شتون لري، چې د $p_1, \dots, p_s$ سره یې سرې په نخښه کولی شي. سرې جوړوي

$$N := p_1^2 \cdots p_s^2 + 2; \qquad (3.12)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیونې یا فرضیې له مخې د ځنو $k_i \in \mathbb{N}_0\ (i = \mathbf{1}, \dots, s)$ لپاره $p_i = 4k_i + 3$ باور لري، یعني

| | |
|---|---|
| (3.13 | $p_i^2 = (4k_i + 3)^2 = 16k_i^2 + 24k_i + 9 = 4k + 1$ |

د یوه $k$ لپاره. له دې امله $(4k+3)(4l+3) = 4m+1$ د یوه $m \in \mathbb{N}$ لپاره.

له دې امله $N := p_1^2 \cdots p_s^2 + 2$ بڼه $(4n+1) + 2 = 4n+3$ لري.

وې دې $N = q_1 \cdots q_r$ د $N \in \mathbb{N}\ (N > 1)$ په لومړنیو ګڼونو ټوټه ونه. نه ټول $q_i$ د بڼې $4k+1$ دي( ځکه چې بیا به $N$ هم له دې بڼې وی). له دې امله $q_j$ ، $1 \leq j \leq r$ یو شتون لري د بڼې $q_j = 4k+3$ سره( د پاتې سره وېشنه راکوي: $0 \leq a < 4$ ، یعني $q_j = 4 \cdot k + a$ .

مګر $4k+0$ او $4k+2$ لومړني عددونه نه دي . $4k+1$ که همدا اوس ترې دباندې دی. $2$ د ضریب په حیث نه رامنځ ته کیږي، ځکه چې $N = 4k+3$ ناجوړه دی).

لاس ته راځي: $q_j = p_i$ د یوه $i\ (1 \leq i \leq s)$ لپاره چېرته چې لرو $q_i \mid N$ او

$$q_j = p_i \mid p_1^2 \cdots p_s^2 \Rightarrow q_j \mid N - p_1^2 \cdots p_i^2 \cdots p_s^2 = 2, \quad (3.14)$$

